# د اپریل په 30مه د لوند د سیټي پارک په اړه ضروري معلومات

که تاسو د سیټي پارک څخه لیدنه کوئ، نو په یاد وساتئ:

- په پارک کې د الکول څښل منع دي که ستاسو عمر د 20 کالو څخه کم وي.
- د کوم بل ډول نشه يیز توکو راوړل یا کارول منع دي.
- جنسي ځورونه منع ده او راپور يې ورکول کیږي. په جنسي ځورونه کې د کوم چا داسې لمس کول چې د هغه نه خوښیږي یا چا ته سپکې او جنسي ناوړه خبرې کول شامل دي. که نارینه وي او که زنانه هر څوک د بېلابېلو ستونزو سره مخ کیدی شي. په خپلو ملګرو پام وکړئ او د یوبل سره مرسته وکړئ.

- په پارک کې د معلوماتو لپاره څلور ځایونه شته چې – سور، شین، ژیړ او آبي دي او دلته د مرستې لپاره کارکوونکي موجود وي. تاسو دلته خپل د اوبو بوتلونه هم ډکولی شئ.

- په پارک کې فرنیچر، بایسکلونه او شیشه یی بوتلونه منع دي. بوټو او ژویو ته مو پام اوسي!

- په پارک کې د ډیری خلکو له امله د تلیفون کارول ممکن ستونزمن وي. تاسو باید مخکې له مخکې د یو بل سره د لیدو ځای ټاکلی وي.

- په ښار کې ګڼه ګوڼه وي، په ځانګړي توګه هغو کسانو لپاره چې د ریل یا بس له لارې سفر کوي. که تاسو سفر کوئ نو یو ښه وخت وټاکئ. په ډیری مرکزونو یا سټیشنونو کې پولیس او ساتونکي شتون لري.

د والبوري څخه یوه ورځ مخکې، د اپریل په دېرشمه، ډیری ځوانان د لوند سیټي پارک کې سره راټولیږي. دا لمانځنه چې لومړی د پوهنتون د محصلینو لپاره یو دود و اوس په یوه میله بدله شوې چې ټوله ورځ د ماسپښین تر د 3:00 بجو پورې کله چې پارک د ماښام لمانځنې لپاره د پاکولو په موخه تړل کیږي، روانه وي. ځوان وګړي د همدې موخې لپاره لوند ته د رارسیدو لپاره له ډیرې لرې فاصلې څخه راځي.

د والبوري د ماښام دودیزه مذهبي لمانځنه په سیټي پارک کې ماسختن 8:00 بجې پیلیږي. موږ د پسرلي سندرې وایو او د والبوري په نامه لوی مذهبي اوور بلوو. له دودیز پلوه، د لوند کمون نورو ډیری ځایونو کې هم دغه مذهبي لمانځنه ترسره کیږي.

تیر کال، د اپریل په 30 شاوخوا 25000 ځوانان په سیټي پارک کې سره راټول شوي وو. دلته خورا ډیره ګڼه ګوڼه وي، ډیری خلکو نشه کړي وي او په اسانۍ سره د غټو ستونزو سره مخ کیدی شئ. هر کال ډیری خلک د غلا، ځورونې، ټپله کیدو یا د الکول مسمویت سره مخ کیږي.

په سیټي پارک کې ګڼ شمیر پولیس موجود وي او د داوطلب پولیسو، د ساحوي ټولیو، د تفریح مرکزونو کارکوونکو او نورو لویانو څخه ملاتړ ترلاسه کوي. دغه خلک به د ځوانانو په مینځ کې الکول او نورو نشه يیز توکو ته ځانګړې توجه ولري.

ستاسو کڅوړه یا بیګ ممکن ولټول شي، الکول تویول کیږي، او هرڅوک چې د قانون څخه سرغړونه کوي یا کوم څوک شخړه کې دخیل وي د پولیسو یا د ټولنیزو خدماتو لخوا راجستر کیږي. که
د دې جملې څخه کوم څه پیښ شي او ستاسو عمر له 18 کالو څخه کم وي، نو ستاسو والدین یا
د بل سرپرست سره به اړیکه ونیول شي.




